# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

*چو کشور نباشد تن من مبـــــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد*
*همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم*

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| گزارشها | Reports |
|---|---|



گزارشگر: محمد امین بسمل

۱۰ جولای ۲۰۱۱

## په ګردېز او مونشن ښارونوکې دنښتر دودیزه مشاعره ولمانځل شوه




پرون دلوېې پکتیا مرکزګردېز په لرغوني ښارکې دنښتر دودیزې مشاعرې اومېلې شپږمه کلیزه ولمانځل شوه .

یاده مشاعره دګردېز ښاروالی په دوهم تالار کې جوړه شوې وه .

غونډه دساحل منګل ،لمرنیازي ،سمیع الله پیوند او شاهد خان تنها په ویندویي د قران کریم دځو مبارکو آیتونو په تلاوت پیل او ورپسې ملي سرود وغږول شو .

د پرونی غونډې په پیل کې د لویې پکتیا د فرهنګیانو په استازیتوب ډاکتر عبدالهادي حماس ګډونوالو ته د ښه راغلاست ترڅنګ پرانستونکې وینا واوروله .

ده په خپلو خبرو کې وویل :

ډېرخوښ یو، چي دیو کال په تېرېدو سره بیاهم دښتر مشاعرې دلمانځلو په موخه سره راټول شوي یو ، خومتاسفانه ، چي دهیواد روانو حالاتوپه پام کي نیولو سره دنوروکلونوپه شان سږ کال دنورو ولایتونو ګڼ شمېر شاعران له ځان سره نه لرو ځکه خو دې دهیواد درانه فرهنګیان د روانوامنیتي ستونځوله وجي زموږ دغه عذر ومني .

حماس وویل ، چي سږکال دښتر دمشاعرې له پاره دپکتیا قدرمن والي جمعه خان همدرد د ځلورو سووکسانو لپاه د ډوډۍ لګښت پر غاړه اخیستی او همدارنګه ملي سوداګر حاجي محمد ګردېزي ۵۰۰۰۰ زره افغانۍ په جرمني کي زمونږ هڅاند فرهنګي شخصیت محمد امین بسمل ۱۰۰۰۰ او دپکتیا دقبایلو ریاست هم ۱۰۰۰۰ افغانۍ مرسته کړې وه .

دډاکتر حماس له وېناوروسته رسماً دشعر برخه پیل شوه ، چي په سرکي نجیب الله شاکري دښتر مشاعرې لپاره لیکل شوی نظم واوراوه په همدې ترتیب سره مشاعره روانه او دګډون والو له خوا په ګرمو ولولو اوچکچکوبدرګه کېده.

دمشاعر ې په جریان کي دنورومشاعرو په شان ښاغلي مطیع الله تراب هم یو اوږد نظم واوراوه .

ده په خپل نظم کي هغه واقیعتونه رانغښتي وو، چي په اوس وخت کي پرافغانانو اوپه ځانګړې توګه دپښتنو په سیمو کي تېرېږي .

دښاغلي تراب له شعر ه وروسته دپکتیا فلم دځوانانوله خوایوه په زړه پورې تمثیلي پارچه وړاندي شوه ،چي دګډون والو له خوا په چکچکو بدرګه شول له همدې سره مشاعره پای ته ورسېده او مېلمانه تاکلي ځای ته دډوډۍ خوړولو لپاره ولاړل .

یاده دې وي ، چي په دې مشاعره کي شاوخو یو زر کسانو ګډون کړی وو او ګڼ شمېر شاعرانو ښکي شعرونه واورول .

پاته دې نه وي ، چي زموږ مشاعره په لویه پکتیاکي له ملي راډیواو پکتیا راډیو څخه په ژوندۍ بڼه په ټوله پکتیا او همدا راز د تیلیفون په کرښه زرګونه کیلو متره اخوا د جرمني په بایرن آیالت کي زموږ پردېسو افغانانو ته هم په ژوندۍ بڼه ورخپرېده .

مننه

ساحل منګل



دتصويرونو دحجم دزياتوالي له کبله يوازې دښاغلي مطيع الله تراب او ښاغلي حنيف حيران تصويرونه ويبپاڼو ته ولېږل شول خوپه نښتر اوسوله ويبلاګونو کې به يې بيا په تفصيل سره وګورئ البته يو څه وخت غواړي .

درنو او پتمنو هيوادوالو!

تاسوله لويې پکتياڅخه دښاغلي ساحل منګل لخوارالېږل شوی رپوټ ولوست ، چې زه ورنه مننه کوم دادی په لاندې ډول زموږ دمشاعرې رپوټ هم تاسو ته په خورا درناوي سره وړاندې کوم .

لکه دتېر په څېر سږ کال مو هم ښکلی او هسک نښتر په ګردېز او مونشن ښارونو کې په ګډه ولمانځه .

پرون سهاروختي تر برېځره مانا څه کم يوولسو ۱۱بجو پورې ديادو ښارونوترمينځ تيليفوني کرښه ټينګه وه .

موږ له ګرديز څخه دنښتر لمانځنې پروګرام په ژوندۍ بڼه واورېداو د خپلو بااحساسوشاعرانوله پونځونومو زيات خوند واخيست .

داچې زموږ دهيواد پښتون مېشتې سيمې په تېره بيا سويلي او سويل ختيځې سيمې تر يو پلان شوي ناورين لاندې دي نو باور وکړئ، چې هر شېبه مو خدای (ج) ته لاسونه لپه کول ، چې ای خالقـــه د نښتر لمانځنې ټول ګډونوال خوښ اوسلامت خپلو کورنيو ته ورسوې .

دالله پاک په فضل بې له کومې پېښې نښتر په ګردېزښارکې ولمانځل شوهيله من يو، چې ټول مېلمانه به خپلو کورونو ته خوښ تللي وي .

کله، چې په ګردېز کې د نښتر ګډونوال له تالار څخه دغرمې ډوډۍ ته ولاړل موږ هم دنښتر لمانځنې په نېت وخوځېدو خولمړی مودجمعې دمباره کې ورځې لمونځ دمونشن ښار ميرويس نيکه په جومات کې ادا اودالله پاک شکر مو وېست، چې په ګردېزښار کې کومه پېښه ونه شوه .

دېوډۍ خوړلوپه جریان او له  هغه  ځخه  وروسته مو هم له ګردېز سره تیلیفوني اړیکه لرله اوله  حالاتوبه ښاغلي ساحل منګل ډاډ راکاوه .
که یاد مو وي تېر کال دښنتر له لمانځني څخه وروسته  دلارې په اوږدو کې دلویې پکتیا په والي ښاغلي همدرد ځانمرګی برید وشو خو الله  پاک بچ کړ .
لنډه دا، چې موږ  هم  په  خوښې سره  دښنتر لمانځنو پیل  دقران  عظیم الشان د ځومبارکو ایتونو په  تلاوت  سره وکړزموږ دغونډې ګډونوال  معمولاً هغه  ځوانان  وو، چې  یا یې له کار څخه  رخصت  اخیستی و اویا خو سترې له کار څخه  راورسېدل  دلته  خو دجمعې  په  مباره که ورځ  هم  خلک کار کوي .
زموږ  په  مشاعره کې  د وخت  دکموالي له سببه  محدود شمېر شعرونه وویل  شول زیات  وخت  مو له ګردېز څخه دثبت  شوي  جریان  اورولو  ته  ورکړ  او  زموږ  د  غونډې  ستړوستومانو ګډونوالو ورڅخه  ډېر خوند واخیست  په تېره بیا د ښاغلي مطیع الله  تراب  اوښاغلي فیض الله مالګین شاعرې  په  ټولو خورااغېز وکړ .
زموږ د مشاعرې  په  جریان کې مو داکراین  په ادېسه  ښار کې له ښاغلي دیپلوم انجنیر صابر محمد ارمان  سره تیلیفوني اړیکه ونیوه اوزموږ دغونډې دګډونوالو پیغام  مو په ژوندۍ بڼه ور  واوراوه .
زموږ  دا پیغام  له  دوی  څخه  د مننې  په  اړوند و  هغوی  هلته  پخپل  همت  سره  زموږ د هیواد دنام وتي  او نازک  خیال  شاعر ښاغلي عبدالباري جهاني  د درناوي  غونډه نیولې وه .
کېدای شي درانه لوستونکي ووایي، چې دګردېز  او  مونږ تیلیفوني اړیکه خو د شېږوتېروکلوپه څېرمعمولي بڼه لري خو د  اکراین ادېسي  له  ښار سره یې اړیکه  څه  ده ؟
ځواب  مې  دادی، چې خپلو په  هیوادمینو اوتر خونړې ستم لاندې  هیوادوالو ته  ډاډ ورکړم، چې له  هیواد څخه بهر او دننه افغانان  دخپل کولتور پالنې اوخپلو مشرانو درناوي  ته  ژمن دي  د اکراین  په ادېسه ښار کې زموږ د پردېسوخو با همتوافغانانو پرونۍ غونډه یې  ژوندۍ بېلګه ده.
که موږ د ورځنیوستونځوله کبله  اکراین  ته نه شوای  ورتلای دومره خومو په وس و،چې دتیلیفون په کرښه هم د قدرمن جهاني صاحب  درناوی  وکړو اوهم  ددې غونډې  هیوادپال تنظیموونکي وستایوترڅوهم  دهغې غونډې د ګډونوالو روحیه  لوړه شي  او  هم  دنورو افغانانو لپاره دداسې الهام سبب وګرزي، چې دخپلو مشرانو درناوي ته یې لا نور هم  پام  ور  واوړي .
زه باوري  یم که  په موږ کې  دا روحیه یو څه نوره هم  وده وکړي  هم به مودخپلو مشرانوحق په ځای کړی وي او هم به  د دوی له  مینځه یو داسې مشر  ډګر ته  راووزي، چې دا په زنکدن  پروت افغانستان  ته نجات ورکړي .
له زیاتو خبرو تېرېږم  یوځل بیاپه ادېسه  ښارکې د پرونۍ درنې غونډې له ټولو درنو  تنظیموونکو څخه  دزړه په مینه  مننه کوم  همداراز  زموږ  ددواړو غونډو  له ګډونوالوڅخه  هم مننه کوم، چې ښنتر یې  راسره ولمانځه باید زیاته کړم، چې په مونښ ښار کې زموږ ښنتر لمانځنه  په  شپږوساعتونوکې ختمه شوه .
یادونـــــــــــــــــــــــــه :
دګردیز ښار مشاعرې په اخېر کې  یو شمېر کسان په ستاینلیکونو  هم ونازول  شول، چې متاسفانه نومونه یې په پورتني  رپوټ کې نه  دي  رالېږل  شوي  له  بلې  خوا د ستاینلیکونو په وخت کې  میکروفونونه په خوځنده حالت کې وو خو د یو کس نوم  د تیلیفون  په کرښه موږ  ښه  واضع  واورېد  هغه  ښاغلی استاد احمدجان  دی،  چې نن یې تیلیفوني شمېره لاس ته  راغله او  اړیکه  مې ورسره ونیوه دښاغلي استاد احمد جان  په اړوندتاسو ته دومره

عرض کول غواړم کله، چې شپږ کاله مخکې زه لويي پکتيا ته ولاړم دلويي پکتيا دولتي چارواکو له ماسره دنبنتر په دودولو کې دومره مرسته ونه کړه لکه ښاغلي استاد احمد جان .

ښاغلي استاد احمد جان پخپل شخصي مصرف دلويي پکتياله هره گوټه داسي شاعران راته راوبلل، چې ما د مخه نه وو ليدلي .

دروژې مباره که مياشت وه،چې يادوشاعرانودغرمي په دوو بجو داستاداحمدجان کور ته تشريف راوړ استاد احمد جان ټول را وپيژندل هغوی ته يې وويل، چې زموږ مسافر ورور له جرمني څخه راغلی غواړي، چې لويه پکتيا دنبنتر په نوم کالنی مشاعره ولري .

درنوګډونوالو بې له کوم بل نظره اتفاق وکړ او ټول دنبنتر په نوم په داسي حال کې سلاشول، چې دلويي پکتيا والي خدای ښنلی حکيم تنيوال راسره مخالف وهغه دشندي گل نوم خوښ کړی و خوزه د خپلو باتورو شاعرانو اوفرهنگيانو په ملاتړ ورباندې غالب شوم نبنتر نه يوازې په لويه پکتيابلکې په جرمني کې هم دودشو، چې تراوسه کوم بل څوک داسي ښېلگه نه لري، چې په يوه ورځ دنړی په دوو ملکونوکې کالنی مشاعره ولمانځي .

له قدرمن استاد احمد جان څخه يو ځل بيا مننه کوم اوددې شپږوکلونو نبنترلمانځونکو څخه هم مننه کوم، چې په سختو شرايطو کې يې هسک نبنتر پخپل هسک همت سره ولمانځه .

له درنوافغان ويبپاڼو چلونکو څخه په ځانگړې ډول مننه کوم، چې تل يې له موږ سره همکاري کړې ده

محمدامين بسمل